# انانسي او عقل



Ghanaian folktale
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid
3
پښتو ps



په پخوا زمانو کې خلک په هېڅ هم نه پوهېدل. د نباتاتو د کښت کولو لارې چارې نه ورتلې، د ټوکراوبدلو هنر يې هم زده نه و، حتی په دې هم نه پوهېدل چې له اوسپنې څخه څه ډول وسايل جوړ کړي. نيام خدای چې په آسمانونو کې و او د نړۍ په اړه يې ډېره پوهه لرله، خو هغه خپل عقل او پوهه په يو ختين لوښي کې خوندي کړې وه.



يوه ورځ، نيام پرېکړه وکړه او خپل ختېين لوښى يې انانسي ته ورکړ. هر ځلې چې انانسي ختېين لوښي ته کتل ډېر نوي شيان يې ترې زده کول. دا چاره ورته ډېره په زړه پورې وه!



خو هغه حریص و او له ځان سره یې دا وپتیله، چې همدا ختښین لوښی د لوړې ونې په سر کې پټ خوندي کړي چې دا ټول عقل د ده شي. هغه اوږد پړی راواخېسته او ختښین لوښی یې د خېلې خېټې پورې وتړه. او ونې ته یې په ختلو پیل وکړ. خو ختل ورته ستونزمن و، ځکه چې د پورته کېدو پر مهال یې لوښی د زنګنو سره لګېده.



په دې وخت کې د انانسي کشر زوی چې د ونې لاندې ولاړ ؤ اوخپل پلار ته یې کتل، ورته یې وویل: “که دا لوښی په خپل شا پورې وتړې ایا کار به دې آسانه نه شي؟” نو بیا انانسي هم د عقل څخه ډک ختښین لوښی په شا پورې وتړلو او بیخي ورته آسانه شوه.



په ډېره آسانۍ سره هغه د ونې سر ته وخوت، بیا نو له ځان سره یې فکر وکړ: "زه باید تر ټولو عقل مند واوسم خو دلته زما زوی تر ما ډېر هوښیار و!" انانسي په دې خبره دومره غوسه شو چې د عقل څخه ډک ختین لوښی یې له ونې څخه راګوزار کړ.



لوښی پر ځمکې ټوټه ټوټه شو. او عقل هر چا ته ورپیا ورسېده. نو همدا و چې خلکو کرنه، د ټوکرو اوبدنه، د اوسپنې څخه ګټه اخیستنه او نور ټول هغه څه زده کړل چې اوس خلک یې ترسره کولی شي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## انانسي او عقل

Ghanaian folktale

Wiehan de Jager

Zahidullah Abid

CC BY